**د نیکمرغه کوچني اختر د را رسېدو له امله د حزب التحریر – ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر د مبارکۍ پیغام**

د حزب التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د نړۍ ټولو مسلمانانو ته د نیکمرغه کوچني اختر مبارکي وایي. هیله لرو چې الله تعالی به مو قیام، روژې، صدقې او نیک عملونه په خپل دربار کې قبول کړي او په دې مبارکه میاشت کې پر دغه ځورېدلي امت باندې خپل رحمت او مغفرت کړی وي.

سږ سلم کال دی چې امت له واقعي اختر پرته د ډال او اسلامي حاکمیت په نشتون کې ژوند کوي. په دې سلو وروستیو کلونو کې اسلام د ژوند د یوه بشپړ نظام په توګه د اسلامي امت له سیاسي او ټولنیز ژوند څخه بشپړ لرې شوی دی او پر ځای یې پر مسلمانانو دیموکراسي، جمهوریت او د دولت – ملت ارزښتونه عملي کېږي. اسلامي احکام او ارزښتونه یوازې په جوماتونو، فردي عبادتونو او تر خصوصي حریم پورې محدود شوي دي. په داسې حال کې چې د انبیاوو، په ځانګړي ډول زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم رسالت دا و چې حق دین اظهار، غالب او حاکم شي. الله تعالی فرمایي:

**هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ [صف:٩]**

**الله متعال هغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین ( اسلام) سره لېږلی دی؛ څو دغه دین پر نورو ادیانو حاکم او واکمن کړي، که څه هم مشرکان یې خوښ نه کړي.**

له همدې امله د دین اظهار او د اسلام حاکمیت د اسلامي امت مکلفیت هم دی، څو د الله سبحانه وتعالی دین واکمن او عملي کړي. په دې مانا چې اسلام پلی شي او ژغورونکی او نړیوال پیغام یې نورو ملتونو ته د دعوت او جهاد په وسیله ولېږدول شي. دا تکلیف اصحابو. تابیعینو، تبع‌تابیعینو او ورپسې مسلمانانو تر ۱۹۲۴ کال پورې را غځولی دی، خو متاسفانه د خلافت په سقوط سره د حق دین حاکمیت له منځه ولاړ او دا مکلفیت هم هېر شو. په داسې حال کې چې د اسلام د دین د اظهار چاره د پخوانیو او اوسنیو عالمانو ترمنځ یوه داسې موضوع ده چې انکار ترې نه شي کېدلی او د دین له اصولو څخه ګڼل کېږي چې اوس ځنډول شوې ده.

تر دې بده دا ده چې د مسلمانانو په منځ کې داسې منحرفې ډلې پیدا شوې دي چې په عجیبو تعبیرونو سره غواړي د حق دین حاکمیت په بې‌باکانه او بې‌شرمانه ډول تر پوښتنې لاندې راولي او اسلام په اخلاقي او فردي چارو پورې منحصر کړي او د الله

سبحانه وتعالی د دین د حاکمیت او د اسلام د هر اړخیز تطبیق لپاره دعوت یې «افراطي او راډیکال» معرفي کړی دی. دا ډلې او اشخاص له ختیځه تر لوېدیځه له کفارو سره یو ځای د اسلامي حاکمیت د بیا را ژوندي کولو پر وړاندې په یوه صف کې ولاړ دي او د اسلام د دین د غالبیت او واکمنۍ پر وړاندې یې دښمنۍ ته ملا تړلې او دسیسې او توطیې جوړوي. خو دا د الله تعالی ژمنه ده چې د دوی دسیسې، توطیې او شوم پلانونه به له خاورو سره خاورې کوي او د اسلام حاکمیت به یو ځل بیا مسلمانانو او بشریت ته د نعمت په ډول وړاندې کوي.

**يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ [صف:۸]**

*دوی اراده لري چې د الله تعالی نور په خپلو پوکیو سره مړ کړي، خو الله تعالی خپل نور بشپړوي، که کافران یې هر څومره بد وګڼي.*

واقعي اختر هغه وخت په امت کې د یو ارزښت په توګه را ژوندی کېږي چې اسلامي دولت تاسیس شي او اسلام حاکم او غالب شي. دا هغه وخت دی چې اسلامي امت به واقعي نیکمرغي د اختر په ورځو کې د اسلام د حاکمیت په رڼا کې تجربه کوي. اړتیا ده چې ددې خوښۍ د تر لاسه کولو لپاره یو بل ته لاسونه ورکړو او د خلافت د تاسیس او د اسلام د واکمنۍ لپاره په هره سطحه چې یو او هر څه چې کولی شو، باید ترسره یې کړو.

**وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ [صف:۱۳]**

او نور هغه نعمتونه چې تاسې یې خوښوئ *[تاسې ته در کول کېږي]* د الله تعالی له لوري مرسته او فتحه نږدې ده او مومنانو ته زیری ورکړه.

**د حزب التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**